همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# بلخ

د بلخ ولایت چې د افغانستان په شمال لویدیز کې د ترکمنستان، تاجکستان او ازبکستان تر منځ پروت دی ۱٫۳ میلیونه نفوس لري او د هیواد څلورم لوی ولایت شمیرل کیږي. اصلي ژبه چې خلک وربانديې خبرې کوي دري او وروسته بیا پښتو ده. د دې ولایت مرکز مزارشریف چې ۴۱۰۰۰۰ اوسیدونکي لري د هیواد په شمال کې اقتصادي مرکز ګڼل کیږي.

بلخ د نورو ولایتونو په پرتله د ښاري کیدلو دوهمه لویه کچه لري او د هغه د کار د عوایدو د پام وړ برخه د خدمتونو او صنایعو د سکتورونو څخه په لاس راځي او د ښوونې او روزنې کچه یې د منځنۍ کچې څخه لوړه ده. په مزارشریف کې د هوایي ډګر څخه هره ورځ کورني او نړیوال الوتنې کیږي او د افغانستان په اقتصادي پراختیا کې مثبته ونډه اخلي.

د بیخبنا د پراخولو، پوهنې، روغتیایي څارنې، او انرژۍ او اوبورسونې په ډګرونو کې د پام وړ پرمختګ او په هغه پورې تړلې اقتصادي ودې سره سره، دغه ولایت د پخوا په شان د عمده ننګونو سره مخامخ دی. د ښار او کلیو د اوسیدونکو تر منځ د ژوند د کچې له پلوه د پام وړ توپیرونه لیدل کیږي. طبیعي ناروي په پسرلي او مني کې په کراتو پیښیږي.

د افغانستان سره د المان د همکارۍ پروګرام د بلخ په ولایت کې د ډیرو کلونو راهیسې کارکوي او په ډیرو ډګرونو لکه د پوهنې، د کرهنې د پراختیا، د پایښتونکي اقتصادي پراختیا، د قانون د واکمنۍ، اداري اصلاحاتو، د اوبو او برښنا د رسونې، او روغتیایي څارنې په اړه بیلابیل پروګرامونه پرمخ بیایي چې دغو پروګرامونو مرسته کړیده چې بدلونونه منځته راشي او د اوسیدونکو د ژوند شرایط سمون ومومي.

په دغه برخه کې په بلخ کې د افغانستان سره د المان د همکارۍ د پروګرام د فعالیتونو په باب یوه لنډه کتنه لوستلای شی.

Project:
په شمال کې د ټرانسپورټ د یوې څلورلارې په توګه نړیوال هوايي ډګر
د افغانستان په شمال کې د پایښتونکي اقتصادي ودې ټینګښت
د پاکو اوبو دپاره څرګنده مقررات او روزل شوي مسلکي کارکوونکي
د افغانستان په شمال کې پاکې اوبه
د افغانستان د خلکو دپاره د روغتیایي څارنې سمون
برښنا د اقتصادی شاخص په توګهـ د قانونی چوکاټ رامنځ ته کول او د پانګونې آسانتیاوې
د افغانستان په شمال کې انرژي د پرمختګ د اړتیا په توګه
د افغانستان لپاره نوې کیدونکي انرژۍ
په افغانستان کې د پراختیا دپاره سپورت
د ښوونې او روزنې د سکتور اصلاح کول – د ښوونکو دپاره نوي سټنډرډونه او درسي نصابونه
د ټولو ښاریانو دپاره حقوقی مصونیت
د پراختیا شفافه طرحه کول او پلۍ کول
دولتی ارګانونه د ټولنې د استنادي ستنو په توګه
د سولې دپاره ځوانان
په افغانستان کې د کارپوهانو ادغام

- English
- Deutsch

- دری

Bundesministerium für
wirtschaftliche Zusammenarbeit
und Entwicklung